مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد



پښتو ژباړه: رحمت آریا


۲۰۲۳/۰۷/۱۵

# د افغانستان سیاسي - تأریخي ژورنال

**(د افغانستان سیاسي تأریخي گزیټر)**

## پینځم ټوک

## کندهار

## او

## د افغانستان سویل – مرکزي برخي

دوه سوه او شپږ ځلوینتمه پرله پسي برخه

ایډیټ:

ډاکټر لودویگ آدمک

AKADEMISCHE DRUCK- u. VERLAGSANSTALT
GRAZ – AUSTRIA

1980

**میوند**: *«ولسوالی»: ۴۵ – ۳۱ ، ۷ – ۶۵ «ن»: میوند د کندهار د ولایت د یوې ولسوالی او یوۀ کلي نوم دی. دا ولسوالي ۱۰۴۲۴ کیلومتر مربع مساحت لري او افغان سرچینو ئـې د وگړ شمیر د ۹۶۹۴ تر ۱۴۰۴۴ پورې اټکل کړی دی. د ولسوالی کرښې: لویدیځ: د گرمسیر او نـهرِ سراج، شمال: د غورک او کاریز، ختیځ: د پنجوایي او ریگ ولسوالی. په سویل کې د پاکستان له دولت سره کرښه لري. د میوند ولسوالي ۱۰۰ کلـي لري چې تقریباً ۲ کلي ئـې له ۵۰۰ ډیر وگړي لري. لنډ مهالي مجلې دا کلي په لاندې ډول لیست کړي دي:*

| | | | |
|---|---|---|---|
| نهرِ کاریز | قناتِ کل کیچه<br>Kanat -i- Kalkaicha, | قنات میر هوتک | قنات ناوعلي |
| قنات فتح خان | قناتِ محبت | قناتِ برهان | قناتِ شاهي - میر آو خور |
| قنات پلوپلزي | مندوزي | میر آو خور «میرانجور» Miranjor | ماما کاریز |
| رنگ ریزان | دِه قباد | کاریزک | مَند آباد |
| چنگ | کاریز کلان میوند | چشمۀ میوند | چهل گزي |
| قنات بوستان | قنات شاۀ بزرگ | حسن آباد | چشمه حاجي |
| محمد خان | محمد موسی «محمد مسیح» | غونچي | سنگیسار |




افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولئ

| | | | |
|---|---|---|---|
| سَپوزي «سَفو زي» | موشک | خوگاني پیرزاده | کاریز سنگ بَر |
| خوگاني خواجه خالق | مُرچه | مزري | بیابانک «بي بانــَـک» |
| عزیز آباد | اسحق آباد | چشمهٔ حاجي محمد رسول خان | گرم آبک |
| چشمهٔ گرم آبک | علي آبادِ گرم آبک | قلعهٔ سینا میر | محمد خیل «محمود خیل» |
| خاني خیل | نورک خیل | شکور کلی قناتِ شکور» | گلو جان |
| شامي | پس آب | حوضِ مد د | دو آب |
| نهر ابوبکر | کامو زي | قناتِ محمد رضا | بگت |
| چار شاخه | بابا غودي<br>Baba Ghodai | قنات عظیم | یتیمان |
| قلعهٔ خواجه محمد | قنات شیرعلي | قنات کلان خوگاني | قناتِ عطاء |
| قنات سرور خان | لوی کاریزِ سردار احمد خان | مِس کاریز | اختري مس کاریز |
| سمندر | سه توتک | قنات سرطبیب | نور محمد خان |
| کاریز دوکه | زرد آلو | کاریز ایران | قنات شاغاسي |
| کاریز ناصر | قناتِ نور الدین | نو آباد | قناتِ تو زک |
| ناوهٔ واله محمود خیل | کاریز امانت | کاریز شارَک سنگ بَر | کاریز معصومِ سنگ بر |
| کاریز خار زارِ سنگ بر | کوهک | کریان | زازده<br>Zazda |
| شیله | خاکریزوال | مالي خیل | چول آبک<br>Chol Abak |
| چوکه زي Chokazia | عثمان خیل | لالا زي | بارنگ Barang |
| لنډي خاره خیل | قناتِ ملا تور | رئیس خیل | جوی مومند |
| حاجي خیل | قنات شمال | کجک | کاریز نعیم |
| کاریز سید علي | ناوهٔ کاریز | چشمهٔ کزالت<br>Chashma -i- Kazalt | غني خیل |
| نیکو زي | صفوران «صفو زي» | Safuran (Safozai) | |

دا ساحه په ۱۹۱۴ ز کال کې په لاندې ډول شرحه سوې ده: دا د کندهار یوه لیرې پرته ولسوالي ده چې د کاریزونو په یو کتار خروبیږي؛ دا کاریزونه د شاه مقصود د غرنی لړی له سویل – لویدیځ لمنې څخه راغلي دي، دا ولسوالي د کندهار – هلمند د سړک د یو ځای کیدنې په ټکي کې په یوهٔ ډیر مهم موقعیت کې واقع ده، دا سړک د میوند له کوتل او «سنګ غر / غار»[1] څخه تیریږي، چې پورته ئې د ګرم آب د دريې سړک راغلی چې غورک، لام، نیش، تیرین او دیراوت ته ځي او د ملمند د کوتل له لارې هلمند او زمینداور ته ځي. د سینجرې «سنځرې – ژ» ، کاریز سلیم او د میوند د کوتل له لارې له کندهاره تر میوند پورې واټن، د دې ولسوالی تر ټولو لوی او عمده کلي پورې، ۲/۱ ۳۷ کیلومتره دی او دا سړک د قافلو له پلوه ډیره کارول کیږي. په ۱۸۸۰ ز کال کې دې ولسوالی لاندني کلي یا د کوچنیو کلیو ډلې درلودلې، دا کلي ډیري ئې په اوبو خروب دي او بنونه ئې په دیوالونو کې محاط دي:

میوند د کندهار په والي سردار شیرعلیخان پورې اړه لري.

کاریز لنډی یا لنډی کاریز په سید شادي اړه لري

زبورک په امیر تان/طان [2] چې په قوم محمد زی دی اړه لري.

[1] - Sanghar
[2] -Amir Tan, Muhammadzai


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ: maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیرلو مخکې په ځیر و لولئ

دا کلي تول د کشک نخود په سویل کې چې استوګن وګړی ئـې ډيري نورزي، پلوپلزي او اڅکزي بزګران دي تقريباً يوه متداومه ليکه جوړوي. د خروبې ځمکې تړانګه په عام ډول تقريباً يو مايل ارتوالی لري، دا ولسوالي کندهار ته يو شمير «ربي» [پسرلني – ژ] محصولات صادروي چې عمدتاً غنم، وربشې دي او خريف [د مني محصولات – ژ] ئـې مالوچ او هندي جوار دي. له دې کرنيزې تړانګې ورهاخوا چې د کاريز اوبـهٔ ورسيږي يوه پراخه دښته پرته ده چې په ښـهٔ کال کې د وښو پريمانه اندازه توليدولای سي خو په ۱۸۸۰ز کال کې چې لينس له دې دښتې تير سوی وو دا دښته وچه او شاړه وه. له دې دښتې څخه بې شميره خوړونه په تقاطع تيريږي خو غاړې ئـې ټيټې دي او کومه مانع نه جوړوي. بيلو وايي چې دې ولسوالی کې د ميوند د لرغوني ښار کنډوالي او پاتې شوني سته او ويل سوي چې ډيرې زياتې پراخه دي. دا ښار د محمود غزنوي د وزير، مير حسن د حکومتی مرکز وو. «هريس، ليچ، بيلو، لينس»

داسې ښکاري چې اوسمهال دې ميوند د کشکِ نخود د ولسوالی يوه برخه وي. (۱۸۹۶) د دې ولسوالی حاکم مقصود جان نوميږي. (۱۹۰۶)

**ميوند**: [کوتل]: ۴۳ – ۳۱، ۱۵ – ۶۵ «الف ج»: لوړوالی: ۴۰۴۰ فيټه. د ميوند کوتل وروستـنی لويديځ کوتل دی

چې د کاريز له غرنی لړۍ څخه تيريږي او کندهار د ميوند له ولسوالی سره نښلوي. لينس وايي چې جنرال فرامرز خان ګرشک ته د تللو پر لور خپل لښکر له توپچي ځواک سره يو ځای واخيست او د همدې کوتل له لارې لاړ؛ ليچ بيا زياتوي چې دا کوتل له دواړو لورو ټينګ ساتل کيدای سي خو پلی ځواک ئـې هم مدافعه کولای سي. همدې کوتل ته له سينجري «سنجري – ژ» څخه يو سړک راغلی دی، سره له دې چې بې اوبو دی خو د ۱۲ مايلو لپاره د سليم تر کاريز پورې ډير ښـهٔ دی. د هريس د راپور له مخې له همدې ځايه دا سړک د څلورو مايلو لپاره د کوتل تر خولې پورې کرار کرار پورته کيږي، په دې لاره کې د بې شميرو نالو له سره تيريږي «د جون پينځمه» او دا مهال لاره د هر ډول وسلو او ځواک د ليږد او تګ لپاره عملي ده. د کوتل خولـهٔ ۵۰۰ يارډه پراخه ده چې دواړو خواوو ته ئـې غونډۍ د ۳۰۰ او ۴۰۰ فيټو په لوړوالي ولاړې دي چې هم د پلي ځواک او هم د توپچي ځواک لپاره د لاسرسي وړ دي. په شپږم مايل کې د کوتل سر د سړک له لارې چې نسبتاً ښـهٔ دی رسيږي، يوزای څو څو ځايونو کې لږ کار ته اړتيا ده چې د عرابه لرونکو وسايطو د تګ لپاره لاره مناسبه سي. له کوتله کښته کيدل هم تدريجي دي او سړک ئـې تر ۸ مايلو ښـهٔ دی او له همدې واټن وروسته کوتل نور پای مومي او لاره په يوې پراخې دښتې ورسميږي چې په يولسم مايل کې د کشک نخود «د هرو ډول وسايطو او ځواک د تګ لپاره عملي ده» له وچ بستر څخه تيريږي او په ۱/۲ ۱۲ مايل کې ميوند ته رسيږي. به ښـهٔ وي چې د کوتل په اړوند د ليچ راپور په جلا توګه ورکړل سي. ليچ وايي چې د سينجري «سنجري – ژ» په اړخ کې غرونه له کوتل څخه شا ته تللي دي او کوتل مخ خلاصی دی او سړک لوړې سطحې يا درې ته چې ګرد چاپيره څو سوه يارډه ده په آسانی پورته کيږي. له همدې ټکي څخه لاره په يوې ژورې تنګې درې کې تللې ده چې د آهک د ډبرو دنګې کتلې ورباندې مسلطې دي او د يوې وچې نالي په بستر کې تيريږي او راتيريږي. څو ساعته کار په کار دی چې د اوښتلو او را اوښتلو ځايونه ئـې سم کړي، خو کوتل هماغسې چې د ۱۸۸۰ز کال د جون په مياشت کې وو تر اوسه ښـهٔ دی چې د زميندارو قافلې ئـې تر ډيره کاروي. «ليچ، هريس، لينس»



افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رااليږلو مخکې په ځير و لولئ

**میوند**: [کلی]: ۴۵ ــ ۳۱، ۸ ــ ۶۵ «ن»: دا د میوند د درې په مرکز کې یو کلی دی چې د کشک نخود له نالي څخه ۱ ۲/۱ مایل او د سلیم له کاریزه ۱/۲ ۱۲ مایله ورهاخوا د میوند د کوتل له لارې له کندهاره د راغلي سړک پر غاړې واقع دی. دلته د کمپ وهلو لپاره یو ډیر پراخ ځای سته چې د کاریز فوق العاده عالي پریمانه اوبـهٔ لري چې د ۱۸۸۰ز د جون په میاشتې کې له سون لرګیو او دال پرته نور د اړتیا وړ هر ډول توکي په کې موجود ول. سون لرګي یوازې په لړه اندازه ورڅخه ترلاسه کیدای سي خو که ترتیبات ئـې مخکې له مخکي له ونیول سي نو د شاه مقصود له غرونو څخه ترلاسه کیدای سي. دې کلي کې یو کور او یو په دیوالونو کې محاط بڼ سته چې په ۱۸۸۰ز کال کې د کندهار د والي د شیرعلیخان کور وو او د همدې کال د جون په میاشت کې د دې کور شاو خوا ته د نوموړي والي صاحب منصبان ځای پر ځای سوي ول.

د میوند نوم اوس له هغې پیښې سره تړلی دی چې د دې کلي ګاونډ کې د «جنرال بوروز»[3] تر مشرۍ لاندې د برتانوي لښکر او د سردار محمد ایوب خان د ځواک تر منځ د ۱۸۸۰ز کال د جولای د میاشتې په ۲۷ نیټې رامنځته سوه. د دې جګړې د بشپړې شرحې لپاره وګورئ: د افغان دوهمې جګړې رسمي تأریخ. *په دې نوم بل کلی د ارغسان د سیند پر غاړه په ۲۸ ــ ۳۱، ۶۶ ــ ۶۶ «ن» کې موقعیت لري.*

* **مجلون کلی**: [مجنون کلی ــ ژ]: ۲۰ ــ ۳۲، ۱۴ ــ ۶۷ «ن»: دا د ترنک د سیند پر غاړه د زابل په ولایت کې د «نـورَک» د شمال ختیځ په تقریباً ۵ مایلی یو کلی دی.

* **مجنون کلی**: ۳۷ ــ ۳۱، ۸ ــ ۶۶ «ن»: دا د ارغسان او د ترنک د سیندونو تر منځ د کندهار په ولایت کې د دامان د دښتې په ختیځ کې یو کلی دی.

**مجو کاریز**: ــ۳۱، ــ ۶۶: دا له کندهاره تقریباً ۲۲ مایله لیرې د قلات د سړک پر غاړه «مَـنجه»[4] ته نیږدې یو کلی دی. «بیسکو» اوسنی نقشې د «مچو شیله»[5] نوم په ۲۹ ــ ۳۱، ۵۴ ــ ۶۶ کې ښیي.

* **مقام**: ۳۲ ــ ۴۱، ۲۹ ــ ۶۷ «ن»: دا د غزني په ولایت کې د «جنوبي یتیمک»[6] د سویل ختیځ په تقریباً ۴ مایلی کې او د «سپین غر»[7] په ختیځ کې د اوبو د یوهٔ بهیر پر غاړې یو کلی دی.

* **مخ لندې: ملا شاهبوزي**: [8]: ۵۸ ــ ۳۰، ۱۷ ــ ۶۵ «ن»: دا د ریګستان په شمال کې کندهار ته د لارې په اوږدو کې یوه ساحه ده.

**ماکو**: ۳۴ ــ ۳۱، ۲۶ ــ ۶۵ «ن»: دا د کندهار د لویدیځ په ۱۳ مایلی کې د ارغنداب په ښي لاس کې یو کلی دی. «بیسکو»

---

3 - General Burrows
4 - Manja
5 - Macho Shila
6 - Janubi Yatimak
7 - Spin Ghar
8 - MAKH LENDEH, MULLA SHAHBOZI


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

**ماکو:** [9]: دا د درانیانو یو څانګه ده. دوی کومه ځانګړې ځمکه نـهٔ لري خو د دوی یو شمیر په کندهار کې ژوند کوي او یو شمیر ئـي له نور زیو سره ګډ سوي دي. مخکې دوی ځانته یو مشر درلود خو اوس دا قبیله مخ په انحطاط کې ده او ښایي اوس د انقراض څنډې ته نیږدې سوی وي.

بیلو په کندهار کې د استوګنو قبیلو په خپل لیست کې وایي چې د ماکوزیو ۱۰۰ کورونه په کندهار کې دي او کیدای سي شمیر ئـي هماغومره وي چې «الفنستن» ئـي یادونه کوي «بیسکو» په دې نوم یو کلی له حوض مد د څخه ۶ مایله لیرې په ۳۴ – ۳۱، ۵۶ – ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.

**ماکوان:** [10]: ۲۵- ۳۱، ۱ – ۶۶ «ن»: دا یو کاریز دی چې د ماکوان کوچني کلي ته اوبـهٔ برابروي چې ۲ مایله ور ها خوائـي د برغاني د کمپ له سیمې څخه د «نو دیب» او «منديسار» له لارې کندهار ته تللی سرک تیریږي. کله چې جګړن کمپل د ۱۸۷۹ز کال د فبرورۍ په میاشت کې له کاریز څخه تیریدهٔ څاهان د سیمې بند سوي ول خو نوموړي واوریدل چې اوبـهٔ ئـي یوازې لږ تروې وې خو جګړن هروي چې د ۱۸۷۹ز د آګست په میاشت کې ئـې دا اوبـهٔ څښلي وې وایي چې اوبـهٔ ئـي ښې وې؛ او بیلو چې په ۱۸۷۲کال کې په همدې میاشت کې دلته دمه کړې وه وایي "دا د کاریز ښې اوبـهٔ وې"، دا امکان لري چې په دې هکله د کمپ سیمه نسبتاً ښه وه، کټ مټ هماغسې چې تر «دِهٔ نو» لاندې ولیدل سول او ښایي د هغـهٔ ځواک لپاره مناسب وي چې پر دې لارې اوږد مزلونه کوي. هروي وړاندې وایي چې یوې کارګرې ډلې ته اړتیا سته چې اوبو ته لاره جوړه کړي او د آګست په میاشت کې د اوبو اندازه دومره ډیره نـهٔ وه. «بیلو، کمپبل، هروي»

**مقـُـر** :۳ – ۳۲، ۴۷ – ۶۵ «الف»: دا د دهلې د ولسوالۍ یوه علاقه ده. استوګن وګړي ئـي اڅکزي، الکوزي او هوتک غلزي دي. محصولات ئـي غنم او وریجې دي. «بیسکو»

**ملاهـیـد**: ملهید: ــ ۳۱، ــ ۶۶: له چمن څخه تر کندهار پورې د بیدک او برغاني تر منځ لارې کې د ملاهید دښته ده او ویل سوي چې دا دښته په وښو بدایه ده چې له باران وروسته له ۲ تر ۳ فیټو پورې لوړیږي. دلته د کمپ لپاره ښه سیمه ده چې یوه عسکري فرقه په کې ځاییدای سي، ښې او پریمانه اوبـهٔ لري او له کندهار څخه ۳۸ مایله لیرې موقعیت لري. د کمپ سیمې ته نیږدې کلی د قلعـهٔ سرور خان یا د سرور خان کلا په نوم یادیږي. «کلیفرډ»

کلیفرډ په ۱۸۷۹ – ۱۸۸۰ز کال کې لاندني کلي د ملاهید د درې بنستیز او اساسي کلي یادوي:

| | | | | |
|---|---|---|---|---|
| اکران | نورالدین | لودک | شیرین | رحمت الله |

استوګن وګړي ئـي اڅکزي دي او په اڅکزیو کې عمدتاً د کاکوزیو څانګه ده چې په دوبي کې د خپلو رمو د پیولو لپاره د «سامي» [11] غرهٔ ته په تللو سره له تودې هوا تښتي. دوی ټول په کیږدیو کې اوسیږي ؛ کله نا کله د شپږو یا اوو پرله پسې کلونو لپاره هماغه یوې سیمې کې دیره سي، خو له بلې خوا، د دوی ډیری خلک د دولسو میاشتو په نیمايیو کې ځایونه بدل کړي دي. «کمپبل، هروي، کلیفرډ»

9 - MAKU: په انګلیسي متن کې ئـې په عربي الفبا په همدې پاڼي کې ځو ځایه «مکو» لیکلی دی حال دا چې دا ماکو دی. - ژ
10 - MAKUAN Or MAKWAN
11 - Samai mountain


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې ښې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیږلو مخکې په څیر و لولـئ

* **مله جوک**: ماله جوک: ۱۸ – ۳۳، ۳۳ – ۶۶ «ن»: دا د روزگان په ولایت کې د «کوهٔ نوشته» په لویدیځ کې د گیزاب په سویل ختیځ کې، د هلمند د سیند د یوې څانگې پر غاړې یو کلی دی.

**ملنگ**: ۳۹ – ۳۱، ۵۰ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار د شمال ختیځ په ۸ مایلۍ کې یو کلی دی. «بیسکو» د «ملنگ کلي» [12] په نوم یو کلی په ۳۶ – ۳۲، ۲۰ – ۶۷ «ن» کې موقعیت لري.

* **ملک**: ۳۷ – ۳۲، ۵ – ۶۷ «ن»: دا د زابل په ولایت کې د ارغنداب د کلي د شمال ختیځ په تقریباً ۷ مایلۍ کې د ارغنداب د سیند پر غاړې یو کلی دی.

**ملک رحیم**: ـ۳۱،ـ ۵۶: دا در «درز آب» له کوتله په تیریدلو یو ځای یاد سوی او ظاهراً د ارغنداب له درې څخه د کوتل مدخل ته نیږدې موقعیت لري. دلته کوم کلی نـهٔ سته خو د کمپ و هلو لپاره ښـهٔ پریمانه ځای لري او تر څنگ ئـې پریمانه اوبـهٔ او د اوبښ څر لپاره ډیر ښـهٔ ځای لري. د ارتیا وړ توکي باید له «شوهین» [13] څخه راوړل سي. دا باید د فتح محمد د ځلورمایلی واټن په منځ کې وي؛ له ځلورم مایل ورها خوا په خاکریز کې د گونده پر لور اوبـهٔ نـهٔ سته. «ای. بي. سي.»

**ملک زي** :۲۹ – ۳۱، ۴۶ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د میوند د شمال په ۲ مایلۍ کې د ارغسان د سیند پر غاړه یو کلی دی.

* **مالي زي**: مَـلي زي: په دې نوم یو شمیر کلي په لاندنیو موقعیتونو کې سته: د گیزاب د شمال لویدیځ په ۵ مایلۍ کې په ۲۴ – ۳۳، ۱۵ – ۲۴ «ن»؛ د احمد شاه خیلو [14] د سویل په ۵ مایلۍ کې په ۵۴ – ۳۱، ۲ – ۶۷ «ج» او په ۳۴ – ۳۲، ۴۶ – ۶۵ «ن» کې.

**مليزي**: دا د اڅکزیو د قبیلې د گوجن زیو یوه پیاوړه برخه ده او ویل سوي چې په ۴۰۰ کورنیو کې تقریباً ۱۰۰۰ تنه جنگیالي لري. دوی د خواجه عمران د غرنۍ لړۍ په لویدیځ کې په «کونچي» [15] او نورو ځایونو کې اوسیږي او په ژمي کې د کدنۍ په دښتې کې په ځانگړې توگه د ریگستان په پولو کې پوونده کوي او په دوبي کې توبې ته ځي چې هلته دوی د «کُرک» او «گوال» [16] تر منځ د «غبرگ د درې» [17] ملکیت لري او همدا شان په «توبین» کې د «اسپیش لون» [18] د نالې پر غاړې ځمکې لري.

کلیفرډ د مالي زیو پینځه ځانگې یادوي: په لاندې ډول :

| | | | |
|---|---|---|---|
| خواجه زي | | په کونچي کي | |
| گادي زي | Gadezai | په کونچي کي | |
| محمد زي | | په توبه کي | |
| داگام زي | Dagamzai | په شيروب کي | Sherub |
| سادي زي | Sadizai | د گواجه Gwajha او بولدک تر منځ په کرپوتي Karpotai کي | |
| | | ميتلند | |

12 - Malang Kalay
13 - Shuhin
14 - Ahmad Shah Khel
15 - Kunchai
16 - Kurk and Gwal
17 - Ghabarg valley
18 - Ispeshlun Nala in Tobin


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینگه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ

" د اڅکزیو د همدې څانګې له یوې فرعي څانګې سره په «شالو» [19] او کدني کې په «سي پل نیکهٔ زیارت» [20] کې مخامخ سوو، همدغو ځایونو کې دوی یو شمیر کوچني کلي او یو شمیر پټي درلودل." «بن»

**ملمند**: مالموند: ۵۹ – ۳۱، ۵۹ – ۶۵: دا هلمند ته د سړک په اوږدو کې د «اَو خاني د کلي په ګډون» د کلیو یوه ډله ده د اوخاني کلی د کلیو له دې ډلې څخه لږ لیرې واقع دی، د کلیو دا ډله د ۲ مایلو په ارتوالي په یوې مخ خلاصې درې کې واقع ده چې د خپلو غنمو د کرهنې د محصولاتو لپاره شهرت لري او د «ملمند» [21] او د «باغِ محراب» د کوتلو د یوځای کیدني ټکي ته نیږدې واقع دی، د ملمند کوتل میوند ته او د باغ محراب کوتل غورک ته لاره ورکوي. لیچ له میوند څخه واټن ۱۸ مایله او له غورک څخه تقریباً ۱۰ مایله ښیي.

لیچ وایي چې د دغو کلیو استوګن وګړي نورزي، سورکاني او الکوزي دي.

داسې ښکاري چې ملمند دې هماغه ځای وي چې بیسکو د کندهار د قریه جاتو په لیست کې شرحه کړې دي، بیسکو وایي چې " ملمند د الکوزیو یو کلی دی چې ۱۵۲ کورونه او تقریباً ۳۶۵ تنه استوګن وګړي لري دا وګړي الکوزي او غلزي دي او د ګرشک په شمال کې د هلمند پر غاړې واقع دي. «لیچ، بیسکو» *د «ملمند چینې» په نوم یو کلی په ۵۹ – ۳۱، ۵۹ – ۶۵ «الف» او «ملمنده» په ۱۰ – ۳۱، ۵ – ۶۶ «ج» کې موقعیت لري.*

**ملمند** «کوتل»: ۵۸ – ۳۱، ۷ – ۶۵: لوړوالی: ۴۴۲۰ فیټه. دا یو مهم کوتل دی چې د میوند ولسوالي له ګرشک پورته د هلمند پر غاړې ګودرونو سره نښلوي. دا کوتل د میوند له شماله تقریباً ۱۲ مایله لیرې دی او شپږ مایله اوږد دی، سړک د اوبو د بهیدلو هغه بهیر نیسي چې د ګرم آب په خوا کې د جغرافیوي تغییر مکان له کبله په غرنی لړی کې سر راپورته کوي او دا اوبهٔ د همدې لړۍ له منځه تیریږي. مدخل ئـي تنګ دی او غرونه له خپلو ګړنګونو سره رانیږدې سوي دي چې تر یوهٔ لنډ واټن پورې یو عادي تنګی جوړوي. هر څومره چې سړک پر مخ ځي غرونه کرار کرار شا ته کیږي، اوله څو ټیټو غرنیو مهمیزونو څخه په تیریدلو له هغهٔ سړک سره مخامخ کیږي چې د ملمند کلیو ته نیږدې یا د تنګي باغِ محراب له لارې له غورک څخه راغلی دی. د ګرم آب په خوا کې د کوتل د مدخل لوړوالی ۴۲۰۰ فیټه دی او له دې په لږ لنډ واټن کې سړک له یوهٔ ټیټ کوتل څخه تیریږي چې لوړوالی ئـې ۴۴۲۰ فیټه دی. د ملمند پر خوا سقوط نرم دی او سړک په آسانی سره د تګ لپاره جوړیدای سي. «لیچ»

* **ملوک**: ۸ – ۳۲، ۲۰ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د لام د سویل ختیځ په تقریباً ۶ مایلی کې د اوبو د یوهٔ بهیر پر غاړې یو کلی دی.

**ماما سني**: وګورئ: محمد حسني

* **ماما تان ناور**: ۳۸ – ۳۰، ۵۷ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار د ولایت په شمال کې له ښوراوک څخه تر کندهار پورې د لارې په اوږدو کې یوه ځاه ده.

---

[19] - Shalo
[20] - Saipul Nikah Ziarat
[21] - Malmund


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بنې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولئ

* **ماماتي:** ۲۳- ۳۱، ۵۸ – ۶۶ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د «تانده / تندي» [22] د سویل ختیځ په تقریباً ۲ مایلی کې د ماماتي د غرۀ د شمال په تقریباً ۲ مایلي کې یو کلی دی.

**منه:** منوه: ۱۶ – ۳۱، ۴۸ – ۶۶ «ن»: لوړوالی: ۵۳۵۰ فیټه. دا د کدني د سیند پر غاړه د خاصه دارانو یوه کوچنی پوسته ده چې په «دو باني» [23] کې له برتانوي پوستي ۵ مایله کښته ده. دلته ډیره کرهنه سوې او هم یو مشهور زیارت دلته سته دی. «بن»

**مانک نیکهٔ**: – ۳۱، – ۶۷: دا د هغي غرنی لړی لوړ ټکی دی چې د کدني له سیند څخه تر سیلسن/ ثالثون پورې مخ پر شمال ختیځ ځغلي او په ختیځ او لویدیځ اړخونو کې په ترتیب سره د سیلسن/ثالثون سنځلي د نالي او د کدني سنځلي د نالي پیل ټکی دی. «بن» د مندک په نوم یو کلی په ۳۸ – ۳۲، ۳۷ – ۶۵ «ج» کې موقعیت لري.

* **مناره:** ۴۰ – ۳۱، ۳۸ – ۶۵ «ن»: دا د کندهار په ولایت کې د سنجری په شمال ختیځ کې او د کندهار په شمال لویدیځ کې د ارغنداب د سیند پر غاړه یو کلی دی. د دې ځای په لویدیځ کې «لویه مناره» واقع ده.

**منارهٔ انګوریان**: دا د شکار پور د دروازې د سویل په څلور مایلی کې یو کلی دی. «بیسکو» د مناري په نوم یو کلی په ۴۰ – ۳۱، ۳۶ – ۶۵ کې موقعیت لري.

**منارهٔ ارغنداب**: ۴۰ – ۳۱، ۳۶ – ۶۵ «ن»: دا د چهار قلبي او خالیشک تر منځ د بابا ولي په تقریباً مقابل لور کې د ارغنداب پر ښی غاړې یو کلی دی. «بیسکو» *شمال لویدیځ لور ته تقریباً یو مایل ورآندې د «لوئـي مناري» په نوم یو کلی دی.*

**منداب مند راب**: [24]: – ۳۱، – ۶۵: دا له کندهاره ۱۹ مایله لیرې چمن ته د تللي سړک په اوږدو کې یو کلی دی. «بیسکو» *اوسنی نقشې د منداب نوم په ۲۷ – ۳۱، ۵۲- ۶۵ «ن» کې ښیي.*

## نور بیا

**منديسار**: یا: منديصار:

**یادونه:** قدرمنو لوستونکو! تاسو تر دغه لینک لاندې د ښاغلي آریا صاحب په آرشیف کی د لمړی ټوک، دوېم ټوک، دریم ټوک او د څلورم ټوک ټولي برخي لوستی شئ.

22 - Tanda
23 - Dobani
24 - MANDAB-I-MANDARAB


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ